# فضل رحیم ساقي

## خدائي خدمتګار، لیکوال او شاعر

مفلس درانے

کهٔ مونږ د برصغیر په تاریخ نظر واچوو نو معلومه به شي چې د هند په ازادۍ کښې د ټولو نه لویه برخه د قربانو په لحاظ د پښتنو د دې خاورې ده او دغې قربانو د اعزاز ټوله برخه خدائي خدمتګار تحریک ته رسي ځکه چې دغه تحریک اصلاح الافاغنه په اول ځل جوړ شو نو د دې مقصد اصلاحي او معاشرتي ؤ چې په پښتنو کښې د غلطو رواجونو او دودونو مخنیوے وکړي ځکه چې د جهالت له کبله په معمولي خبره به ورور د ورور قتل ته تیار شو، د دغې جهالت د لرې کولو دپاره د تحریک رهنما ستر باچا خان ځائے په ځائے د ازاد سکولونو بنیاد کېښودو چې په پښتنو کښې د علم رڼا خوره کړي او بیا د دغې سکولونو نه فارغ شوو بچو د ژوند په هره څانګه کښې داسې مثالونه روښانه کړل چې په دې ترقي یافته دور کښې نن هم خلق د هغوي په پل پل ږدي. هغه ادب دے کهٔ ثقافت او کهٔ سیاست او کهٔ د ژوند نور اړخونه. په دغې زلمو کښې یو نوم د فضل الرحیم ساقي هم دے چې د پښې د نوک نه واخله د سر د هر وېښتهٔ پورې په صحیح معنو کښې یو سوچه او مخلص خدائي خدمتګار، اصلاحي او انقلابي شخصیت او سپېځلے لیکوال او شعله بیان شاعر او مقرر ؤ. هسې خو د هغهٔ شناخت او پېژندګلو د یو شاعر په توګه کېږي خو کهٔ وکتے شي نو د هغهٔ شخصیت درې اړخیز دے لکه اول خدائي خدمتګار بیا شاعر او بیا لیکوال.

فضل رحیم ساقي په ۱۹۰۲ء کښې عبدالعزیز خان کره چارسده کښې پیدا شو، ابتدائي تعلیم ئې د رځړو په جومات کښې او بیا د څلورم جماعت پورې د ګل اباد مدرسه کښې حاصل کړو هغه په عربۍ، فارسۍ، اردو او پښتو کښې ښهٔ ماهر ؤ او دعوٰي کوي چې:

خلقو علم پسې ډېرې خوارۍ وکړې
خو ساقي لره ورکړے خدائے وېړیا دے

د هغهٔ د شاعرۍ ابتداء د ۱۹۲۷ء نه کېږي او د نظم دوه کتابونه "ډک جام" او "نیم جام" او د نثر یو کتاب "ژوندون" چې د روزنامچې په شکل کښې دے چې په هغې د سریزې په توګه د باچا خان دا الفاظ درج دي "ما خپلو تعلیم یافته ملګرو ته دا خبره څو ځله وکړه چې تاسو چې د پښتنو کوم خدمت کوئ، دې سره سره د دې متعلق لیکل هم کوئ. په دې شان به زمونږ د دې تحریک یو تاریخ

جوړ شي او د پښتو ژبې خدمت به هم وشي" (عبدالغفار ۳۰-۵-۱۹۷۷) او د ساقي صېب "ژوندون" د خپل مشر باچا خان د دغې حکم تعميل دے. ځکه چې د هر خدائي خدمتګار د پاره د خپل مشر حکم منل فرض ګڼلے شو. کتاب په خپل قوم د شوو قسماقسم ظلمونو يو داسې داستان دے چې په سړي غونے زيږ زيږ شي. وائي چې يو خدائي خدمتګار له د شلو کوړو سزا ورکړې شوه چې کوړې پوره شوې نو هغه الله اکبر چغه ووهله نو د لسو کوړو نورو سزا ئې ورکړه چې هغه پوره شوې نو هغه بيا د الله اکبر چغه ووهله نو بيا هغه خدائي خدمتګار ئې د ډمبرو سوړې ته وتړۀ او ډمبرې ئې پرې راپارې کړلې کله چې ۱۹۳۹ء کښې دويم جنګ عظيم شروع شو نو کانګرس پارټۍ د پېرنګيانو نه مطالبه وکړله چې مونږ هله تاسو سره امداد کوو چې د جنګ د ختمېدو نه پس به هندوستان له ازادي ورکوئ خو انګرېزانو دغه مطالبه ونۀ منله نو کانګرس په ټول ملک کښې د جنګ خلاف مهم شروع کړو چونکې خدائي خدمتګارو کانګرس سره الحاق کړے ؤ نو خدائي خدمتګارو هم کلي په کلي د جنګ خلاف کار شروع کړو او ځائے په ځائے به ئې د جنګ خلاف کېمپونه لګول. دغسې يو کېمپ په سردرياب کښې د باچا خان په مشرۍ کښې لګېدلے ؤ چې ساقي صېب پسې ماسخوتن سړے راغے چې زوے دې ناجوړه دے ساقي صېب د باچا خان نه اجازت واخست او شپه په شپه څۀ پياده او څۀ په ټانګه کښې نيمه شپه کلي ته ورسېدۀ. ماشوم وفات شوے وۀ نو ساقي صېب سحر بيا کېمپ ته ځان راورسولو.

فضل رحيم ساقي په ۱۹۰۲ء کښې عبدالعزيز خان کره چارسده کښې پېدا شو، ابتدائي تعليم ئې د رځړو په جومات کښې او بيا د ځلورم جماعت پورې د ګل اباد مدرسه کښې حاصل کړو هغه په عربۍ، فارسۍ، اردو او پښتو کښې ښۀ ماهر ؤ

د کومې پورې چې د هغوي د نثر تعلق دے نو هغه داسې سوچه پښتو ليکي چې سړے ورته ګوته په خُلۀ شي. د هغۀ د نثر يوه ټوټه دلته د نمونې په توګه ليکم ځکه چې کۀ نورې ليکم نو مضمون به ډېر اوږد شي. هغه ليکي "د ۱۹۳۹ء کال ؤ هټلر لکه د مست زمري غړمبېدۀ د جرمني چارچاپېره ملکونه ئې د پښو لاندې کړل چې مونږه ته باچا خان څرخې راپه اوږه کړې د پښتونخوا ګوټ ګوټ ته ورسېدو، کلي په کلي وګرځېدو، حجرې، جوماتونه، لارې، کوڅې مو جارو کړلې، د پښتنو په ټولو حجرو کښې مو څرخې وکړې او پښتنانۀ مو په دې پوهه کړل چې د هوائي جهازونو جنګونه دي، بمونه ورېږي، ښارونه ورانېږي، د رختونو کارخانې ورانېږي، ټوکي به ګران شي او د ګرانېدو نه پس به ورک شي، خلق به بربنډ شي او مړي به بې کفنه ښخېږي، ښۀ به دا وي چې له دې وخته خپل انتظام وکړو". چا چې دغه وخت ليدلے وي نو هغوي ته پته ده چې دا څومره صحيح او په وخت خبردارے وۀ. خلق ګز ګز کپړې پسې په کنټرول کښې په پارونو به ولاړ وو او چې ګز نيم کپړه به ئې ورکړه نو د هغې نه به نۀ

قمیص کېدۀ او نۀ پرتوګ او هغه به هم ګز یو رنګ او ګز بل رنګ ؤ.

د ساقي صېب د نثر سادګي او پختګي مو وکتله چې هر لفظ په خپل ځائے لکه د غمي پرق وهي دې ته وائي د الفاظو ښائست او د حُسن بیان شائستګي.

اوس به د ساقي صېب شاعرۍ له راشو ځکه چې د هغۀ حقیقي پېژندنه د هغۀ شاعري ده. کۀ مونږ د خدائي خدمتګار تحریک نه وړاندې د پښتو شاعرۍ جائزه واخلو نو معلومه به شي چې هغه په یو روایتي حصار کښې بنده وه. د خدائي خدمتګار تحریک شاعرانو پښتو شاعرۍ له یو نوے جهت، اصلاحي او انقلابي سوچ او فکر ورکړو او هغه شاعري چې پرون پرې د ګونګۍ او چاړۍ ګمان کېدۀ، نن د هغې په ژبه او خُلۀ کښې د الفاظو په ځائے د اور شغلې او لمبې وې چې د هغې تاؤ ته د انګرېز غوندې جابر حکومت هم ځان نۀ شو نیولے. اوس د هغې په ترکش کښې اصلاحي او انقلابي او د طنز او مزاح غشي هم دي. د خدائي خدمتګار تحریک د قافلې شاعرانو د خپلو نظمونو په ذریعه د مړ او اودۀ قوم په رګونو کښې د جوش او جذبې ډکه وینه او مینه روانه کړه. د داسې کولو دپاره د دې تحریک شاعرانو او لیکوالو څومره قربانۍ ورکړې دي. ساقي صاحب په دې حقله وائي:

د ځوانۍ عمر چې څۀ وۀ په جېلخانو تېر شو
یا په کوڅو کښې د بې ننګو پښتنو تېر شو
نۀ د بچو په خوند خبر شوم نۀ د مال او متاع
د مستۍ خوب وۀ د ازغو په بسترو تېر شو

په "رنځور" نظم کښې ساقي صېب په انګرېزانو ملایانو، خانانو، پیرانو او رشوت خورو افسرانو باندې سخت تنقید کړے دے. اخري شعر ئې څۀ داسې دے:

خدایه دا تریخ ژوندون به څۀ رنګې زما بدلېږي
توبې توبې نعرې وهمه نۀ قبلېږي زما

د ساقي صېب د اصلاحي او انقلابي شاعرۍ نه دوه کتابه او د "پښتون" ۱۹۲۶ نه تر ۱۹۴۷ء پرچې ډکې دي خو هغه وخت غواړي خو د دې هم سوچ نۀ دے پکار چې ګني هغوي روماني غزل نۀ شو لیکلے. د نمونې دپاره د غزل څو شعرونه ئې وګورئ:

تۀ چې وګورې له قصده ماته شا کړې
کاش کۀ بل لېونے ما غوندې پېدا کړې
د ساقي نه پیاله پرېوته د لاسه
تا چې پورته د اثر سترګې شهلا کړې

د بل غزل نه:

په سپین مخ دې تور کاکل شو ول ول بیا
عاشقان به شي په ویر او زلزل بیا
پوره کړې ده تا کومه وعده خپله
ماشوم زړۀ مې غولوې په چل ول بیا

ساقي صېب او د هغۀ د تحریک ملګرو پښتو ژبې او ادب ته نوے سوچ، نوے فکر، نوے شعور او نوے ژوند ورکړو خواخر وائي چې سور د پرېوتو دے، هغه خلق د دې خلقو دپاره په جېلونو کښې وراستۀ شول، خپل بچي ئې خوار کړل. خو دې بې ننګه قوم ئې قدر ونۀ کړو او دغسې لکه د نورو په شان په یکم نومبر ۱۹۹۲ء خپل روح ساقي صېب هم خپل حقیقي څښتن ته وسپارۀ. انا لله و انا الیه راجعون